پوهندوی آصف بهاند

# د پوهې یو بل ځلی هم ونړېد
# د ډوکتور عبدالرزاق پالوال مړینه



بیا هم د مړیني خبر، بیا هم د وطن د یو عالم او پوه د مرگ خبر خپور شو او په اوربدو سره یي د ډېرو فرهنگیانو زړونه وکړېدل او ونلېدل. دا دی یو ځل بیا د مرگ استازي زمونږ د فرهنگ پر یو خدمتگار باندې لاس بر شو او د فرهنگ له بڼ څخه یي په ارامی سره وربیه او له موږ څخه یې جلا کړ.

په خواشینی سره مي خبر تر لاسه کړ چي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پخوانی استاد، توکمپوه، ژبپوه، د تاریخ محقق، شاعر، لیکوال او د افغانستان د ژبو د اطلس پروژې دانشمند غړی عبدالرزاق پالوال په کندهار کي تر اوږدي ناروغی وروسته وفات شوی دی.

د ډوکتور پالوال د مرگ خبر ما ته استاد معصوم هوتک د تیلیفون پر کرښه راکړ، ما چي د معلوماتو غوښتنه وکړه، ده په عالمانه فرهنگي مهربانی سره دا لاندې معلومات او د پالوال صاحب د دریو چاپ شوو کتابونو د لومړي مخ عکسونه زما په پته راولېږل:

«داکتر عبدالرازق پالوال د کابل پوهنتون د ادبپوهنځي پخوانی استاد نن په کندهار کي له اوږدي ناروغی وروسته وفات سو او د کندهار پوهنتون د مشاهیرو په هدیره کي به خاورو ته وسپارل سي.

داکتر پالوال په کندهار کي زېږېدلی او له میرویس لیسي څخه فارغ سوی وو. لیسانس ئې د کابل پوهنتون له ادبپوهنځي پښتو څانگي اخیستی وو او سمدستي په کدر کي نیول سوی وو. په توکمپوهنه کي په امریکا کي دوکتورا اخیستي وه او په ژبپوهنه کي ئې پراخي څېړني کړې وې. د افغانستان د ژبو اطلس په پروژه

کي د ده کار او ساحوي ریسرچ ونده ډېره غوښنه وه. دی په ژبپوهنه کي د دکتور زیار, دکتور تږي, بایزید اڅک په همردیفو کي کېل کېدی. په ادبپوهنځي کي زیات کلونه استاد وو. د «پښتو مصدر»، «معیاري ژبه» او «د پښتنو تاریخ» اثرونه ئې درانه علمي آثار دي چې چاپ سوي دي. دغه راز ئې د ژبې او ادب په باب په لسهاوو مقالې په هیوادنیو مطبوعاتو کي خپرې سوي دي.

علامه رشاد لیکلي دي چې د پښتو- جاپاني قاموس لیکوال اود جاپان د شیمونوسکي نومي بندر په پوهنتون کي استاد ښاغلی نواتا تېڅو سن وايي" زما د پښتو ژبې استاد ښاغلی عبدالرازق پالوال دی." (٤).

(٤) پښتوڅېړني ــ دوهم ټوک ــ دوهمه برخه ـــ د پښتو، جاپاني قاموس په باب داکاډمیسن عبدالشکور رشاد مقاله ــ ٤ مخ ـــ ١٣٦٧ ش ــ کابل»




د پالوال عملي ژوند او ژوندلیک ته په کتو سره داسې ښکاري چې ده په تانده ځوانۍ کې تر نورو فرهنگیانو څو چنده لا ډېر د زدکړې او پوهې د ترلاسه کولو شوقي و او د دې موخې د ترسره کېدو له پاره يې لرې، لرې ملکونو ته سفرونه وکړل، د زدکړو لړۍ يې بشپړه کړه او تر خپله وسه يې د پوهې له سمندر څخه د خپلې خوښې وړ څاڅکي را واخیستل.

په خپله تانده ځوانۍ کې يې د زدکړو ترڅنګ، قلم چلول او لیکل هم وکړل. ده په خپله ویلي دي چې د اووم ټولګي زده کوونکی و چې منظومې او منثورې لیکنې يې پیل کړې.

(بینوا عبدالرؤف، اوسني لیکوال (بشپړ متن)، ترتیب او زیاتوني: مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه ـ کندهار، ١٣٨٨ ش ـ ٢٠٠٩ کال، ١٨٦ ام مخ)

او په پای کې د ٢٠٢١ ام کال د دسمبر پر شپږمه نېټه (١۴٠٠ ام کال د لیندۍ پنځلسمه) پر خلکو او وطن باندې مین زړه له ټپېدو پاتې شو.

ویل کېږي چې د پالوال د جنازې په مراسمو کې دومره خلکو ګډون نه و کړي، دا خبره چې د يو محب وطن فرهنګي چې لوړې زدکړې يې درلودې، ښه قلم، او د کار ډېره ښه سابقه لري او ګڼ اثار هم ورنه پاتې دي او د وروستي مخه ښې او خاورو ته سپارولو په مراسمو کې يې په دومره لږ شمېر د خلکو ګډون هر څوک حیرانوي. دلایل به يې د هر چا له نظره بیل وي: ښايي د کورونا وبا وېره، ښايي سیاسي ــ نظامي ستونزې، ښايي د ګڼو فرهنګیانو بېځایه کېدل او...

د فرهنګي ژوند په اوږدو کي يي تر پنځوسو ډېر اثار وليکل. ښاغلی مطيع الله روهيال د اوسني ليکوال د پالوال د بيوګرافی په لمن ليک کي د پالوال صاحب د اثارو په باب داسي ليکلي دي:

«د ښاغلي ډاکتر پالوال هغه چاپي اثار چي ما (روهيال) ته معلوم دي: (۱) پښتو نوی مصدر ۱۳۴۲ ش. (۲) د شاه مقصود زيارت او د هغه تاريخي او اجتماعي ارزښت ــ د خپلواکی مجلې په پرله پسي ګڼو کي خپور سوی دئ. (۳) د کالام تاريخ ــ د دغه تاريخ ليکوال مولوي ماتکيرالي دئ، انګليسي ترجمه يي ښاغلي ډاکتر پالوال کړېده، چي د جرمني د انتروپوس مجلې په څو پرله پسي ګڼو کي خپور سويدئ. (۴) د پښتنو نوی پخوانی تاريخ ــ ۱۹۹۴ع. (۵) معياري پښتو ــ ۱۳۸۴ ش.»

(بېنوا عبدالرؤف، اوسني ليکوال (بشپړ متن)، ترتيب او زياتوني: مطيع الله روهيال، علامه رشاد خپرندويه ټولنه ـ کندهار، ۱۳۸۸ ش ــ ۲۰۰۹ کال، ۱۸۷ ام مخ لمنليک)

خو نن سبا په ميډيا کي د پالوال صاحب د اوو چاپ شوو اثارو يادونه کېږي چي ښايي د روهيال صاحب له خوا د پنځو يادو شوو اثارو نه وروسته دوه نور کتابونه چاپ شوي وي. د پالوال صاحب چاپ شوي اثار چي قلموال يي نومونه په ميډيا يادوي. دا دي:

۱ ــ د پښتنو نوی او پخوانی تاريخ (لومړی ټوک، په انګليسي ژبه او دوهم ټوک په پښتو ژبه)،

۲ ــ د پښتو نوی مصدر، د ۱۳۸۴ ل ل کال چاپ،

۳ ــ د شاه مقصود زيارت او د هغه تاريخي ارزښت،

۴ ــ د کالام تاريخ (له انګليسي څخه ژباړه)،

۵ ــ معياري پښتو،

۶ ــ موږ محوه کيږو،

۷ ــ وګړي دوزخيان دي.

د پالوال صاحب يو نږدي دوست او خواخوږی ښاغلي زلمي کرزي د يوي لنډي خو غنيمت مقالي (د دکتور پالوال مړينه يوه درد ناکه علمي او ادبي ضايعه ده) په ترڅ کي د پالوال صاحب د ژوند او له ده سره د ځينو خاطراتو يادونه کړې ده چي د ځانګړې پاملرنې وړ مقاله ده.

په مقاله کي ښاغلي زلمي کرزي د نورو خاطرو تر څنګ د ډاکتر پالوال له خولي داسي يوه خاطره هم راخوندي کړې ده چي د پالوال د فرهنګي شخصيت پر جوړونه باندې څنګه مشرانو فرهنګيانو اثر پرېښی و. د ښاغلي زلمي کرزي خاطره دا ده:

«... په ځواني کي مي شعري قريحه درلوده، کله، کله مي شعر وايه، هغه مهال زه د ادبياتو د پوهنځی محصل وم له کابل څخه کندهار ته په رخصتي ولاړم، په ۱۳۳۹کال په کندهار کي د مطبوعاتو مدير آغا محمد کرزی وو، شعر مي د ده دفتر ته ورووړی، کرزی صاحب په ورين تندی راته وويل:

شاباس ډير ښه شعر دی سبا به يي په طلوع افغان کي نشر کړم. خو ځوانه پالواله يوه خبره درته کوم، شعر ويل پريږده د محصلی په جيب خرڅ هره مياشت يو کتاب رانيسه. د علمي، ادبي او تاريخي کتابونو په لوستلو سره ځان ورسوه او بيا په مقالو کښلو پيل وکړه. د محصلی په دوره کي مدام زما په غوږ کي دغه د فاضل کرزی صاحب خبره وه، کرار ـ کرار مي د کتابونه په رانيولو او لوستلو پيل وکړ او بيا مي ځيرنو او مقالو کښلو ته ملا وتړله نو پالوال په لږ وخت کي د ادب او فرهنګ ډګر ته يو نامتو او تکړه ليکوال

راووت. شعرونه او مقالې يې د کندهار په طلوع افغان او د کابل په انيس ورځپاڼه کې نشر سويدي. همدا رنګه د پښتو په ځينو سمو کلماتو استعمالولو باندی يې ګټوری مقالې هم ليکلي دي...»

لکه د ډېرو نورو قلموالو او پوهانو د ژوند حالات او آثار، د پالوال صاحب بيوګرافي هم بېنوا صاحب په اوسني ليکوال کې ثبت کړې ده، چې د ځانګړې ارزښت درلودونکې ده. البته د پالوال صاحب د ژوند، زدکړو او فرهنګي کارونو په باب چې بېنوا صاحب څه معلومات په اوسني ليکوال کې خوندي کړی دی، دا د هغه وخت د امکاناتو په چوکاټ کې دئ. دا لاندې په اوسني ليکوال کې د ښاغلي پالوال د بيوګرافی بشپړ متن دی:



# ښاغلی پالوال

ښاغلی پالوال د پښتو زلمی ليکونکی او شاعر دئ.
چې پخپله يې د ځان په باب کې ما ته داسې ليکلي دي :
"ښاغلې بېنوا !
د کوچني اختر د ژوندو په شپه ښاغلي نوميالي او د مړو په شپه يې ښاغلي کرزي (د مطبوعاتو مدير) راته وويل چې تاسو زما سوانح غوښتې ده: زه له هغه راهيسې اندېښنو په چيچو غاړه کې واخيستم چې زما له محدود ژوندانه څخه څه درته وکاږم؟ او اوس چې هم څه درته ليکم هغه يوه بشپړه سوانح نه ده، دغه داسې نه چې زه يې نه درته کاږم، بلکې نه يې لرم، دا ځکه چې په يوه بايا ګرافي کې بايد دغه درې برخې هرومرو داخلې وي :
(۱) څوک؟ د چا زوی؟ او د کوم ځای دئ.
(۲) څه مهم کارونه يې کړي دي؟ څه ښه او بد واقعات ورپېښ سوي دي؟ او په څه بوخت دئ؟
(۳) د څه راز ذوق، خوی، احساساتو، او افکارو څښتن دئ؟ د پردو او خپلوانو، لويانو او کوچنيانو، ښځمنو او نارينه وو سره يې ناسته ولاړه څنګه ده؟
دغه پورتنۍ برخې به زه د خپل ځان په باره کې بالترتيب درته بيان کړم، چې ګوندې ستاسې او ستاسو د کتاب د لوستونکو لو په ماته سي. خو لکه څرنګه چې مې يادونه کړېده بشپړې به نه وي.
(۱) زما اصلي نوم عبدالرازق دئ، پلار مې حاجي عبدالخالق د عبدالسلام زوی په خټه خروټی او د کلات د سيوري دئ، سره له دې چې زموږ خلک د ښځمنو په نامه شرمېږي که يې څه هم د لور يا خور وي، او د مور يا مايني نوم خو يې نو لا څه کوې، مګر زه يې پدل ورماتوم او وايم چې : مور مې دولت بي بي نومېږي. په خټه پوپلزۍ او د دهلې د (کړه خېلو) ده. خو زه پخپله د کندهار د ښار د کاکړو په کوڅه کې زوکړی او د باميزو په کوڅه کې لوی سوی يم. د زېږېدنې کال مې ۱۳۱۷ هـ ش کېږي، چې د عمر پر اتم کال باندې مې تعليمي دوره شروع سوې ده.
(۲) له دوهمې برخې څخه به څه درته وکاږم. کشکې مو دغه برخه يوازې و زړو ته پرې ايښې وای. ځکه چې يوازې دوی پر خپلو زوړ کارو او پېښو (خاطراتو) باندې خوند اخلي او يادونه يې ورته ښايېږي، خو هر څه چې ځوانان دي، دوی په نوو نوو پېښو پسې ګرځي او ځان

په اوسني ليکوال کې د پالوال صاحب د بيوګرافۍ لومړی مخ

په خوښوي. مګر متأسفانه چي ما تر اوسه پوري پر مخ هيڅ کار نه دئ کړی او تش د ۱۳۲۴ هـ ش کال د عقرب پر پنځمه د ميرويس بابا د لېسې په يوه سر ورکښېوتم او په ۱۳۳۷ هـ ش کال کي يې د سرطان پر يوومه باندي تر بل سر سيده ووتم. ورپسې په ۱۳۳۸ ش کال کي د ثور پر دوولسمه د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کي شامل سوم.

د ژوندانه سويه مو له مادي اړخه ځخه متوسطه ده او نور يې هم دغسي بولم. منظومي او منثوري ليکني مي د لېسې له اوومه صنفه څخه بيا تر اوسه پوري په طلوع افغان، انيس، کابل، کندهار او نورو ورځپاڼو او مجلو کي خپرې سوي دي، د ناچاپ سوو ليکنو او راتلونکو پېښو په باره کي څه نه سم درته کښلای.

(۳) د دغي برخي په باره کي څه درته وکاږم. خو دونه پوهېږم چي د لومړۍ برخي په کښنه کي ښه وم، په دوهمه برخه کي يو څه وم او د دريم برخي په ليکنه کي نه ښه يم او نه يو څه يم. يعني نفسي مطالعه مي زښته کمزورې ده او دغه يوازي زما په باره کي داسي نه ده، بلکي د نړۍ فلاسفه وو پخوا لا دا منلې ده چي يو سړی تر خپل ځان نور ښه پېژني. له دې سببه نو ما له ښاغلي نوميالي څخه وغوښتل چي زما پېژندنه در وکاږي، مګر د ده خوښه نه وه او ماهم ځکه ټينګار باندي ونه کړ، چي د ده هغې نو بيا ما کښلې وای. په هره توګه څونه چي ما ته خپل ځان رامعلوم دئ پېژندنه يې له تاسو څخه نه سپموم، خو البته ډېره به ناوخته وي.

زه له کاره سره ذوق لرم او د دغه علت هم دا دئ چي د خوښيو چينه پکښې وينم، مګر متأسفانه چي تر اوسه مي هيڅ لاس نه دئ پر بر سوی. کم شخصي کارونه چي مي تر اوسه کړي دي، د ذوق په برخلافه راڅخه ځنډېدلي دي او وخت مي ډېر پر تېر کړی دئ. نور چي تر کمه ځايه پوري په ځان پوهېږم حساسيت مي زيات دئ، او د دغي پېښي شاهده يوازي زما ښه ده، چي له واقعاتو او محيطه سره د کميليون (بوقلمون) غوندي سمه اوښتنه او تغير کوي. په بحث او مشاجره کي احساساتي کېږم، مګر شخړه نه کوم، که څه هم کوچنی وي او هغه به ضرور په مقابل طرف کي وي، که نه اکثره په مجلس کي خاموش يم او برخه به مي يوه، يوه خبره وي. د دغي پېښي (حساسيت) له پاره مي په محيط کي نور علتونه هم سته، چي هغه مي کله منفعل کړي او کله بيا نه، چي د نه والي په علت به يې تاسي هم پوهېږئ، ځيني کوچني علتونه بيا په ما کي دننه داسي خروښ او انفعال پيدا کي چي دباندنی عکس العمل يې نه وي خو که دوام وکړي غروړی راپکښې جوړوي، چي له وروستنۍ چاودني څخه يې زما هم ښه نه راځي. د چا په نري رمازه خوابدی کېږم، او ښه وروسته يې په نرۍ خندا سره بيرته خوښېږم، که چيري شرايط وران نه وي، تراجيدي واقعات مي ژر او ډېر ژړوي، مګر له عياشۍ او هوسه څخه مي هم بد راځي. افکار مي د افغان ملت د پاته والي په سبب سره و (ولسي انډيوالی) ته تمايل لري. د خلکو سره مي ناسته ولاړه، که لږ ډېره يا بل راز سي، راباندي غمېږي، او د ښځمنو په مخ کي خو بېخي ځان بايلم، او تکليف مي لا زياتېږي، مګر ښايي چي دغه محجوبيت مي د تماس او ضرورت له لاري څه رفع سي، که نه وي نو د ځينو اجتماعي حيواناتو په لړ کي لا هم نه سم راتلای. دا هم بايد بې يادوني پاته نه سي چي د ضرورت په ترڅ کي دونه

په اوسني ليکوال کې د پالوال صاحب د بيوګرافۍ دويم مخ


اوسني ليکوال ۱۸۷

جرئت راڅخه کېږي، چي وروسته زه پخپله ورته حيران يم، او البته نور به نه وي. نه ډېري خبري کولای سم او نه يې اورېدلای سم، مګر دا وي چي له يوې موضوع سره زياته علاقه ولرم او يا په نېښ وهل سوی يم. له ځينو يو راز و بل راز پېښو څخه بېرېږم، مګر که په ورکښېوتم او پدل مي مات سو بيا يې نو د خطر پروانه لرم او شر يې په اوبو (آب) تېروم ...

دغه وه زما نيمګړې پېژندنه، نور خو نو تاسي خپل د ليکني ترتيب ورته لری او هېله ده کوم ځايونه چي ستاسي په نظر نامناسب درځي ببخي يې ځني ايسته کئ، او نور ځايونه چي د اوږدولو يا لنډولو وي هم به مو مرسته راسره کړې وي او که پر دغه حال سمه وي يعني کټ مټ يې راخپره کړئ نو به تر ښه لا ښه وي[1]. (پالوال)

په اوسني ليکوال کې د پالوال صاحب د بيوګرافی دريم مخ

د اوسني ليکوال له خپرېدو وروسته د پالوال صاحب په رسمي، شخصي او فرهنګي ژوند کې ډېر بدلونونه راغلي دي.

کومه بيوګرافي يې چې د قبر پر سر لوستل شوې، ګندهار ميشنو فرهنګيانو په مرسته ما د همدې ليکنې د لا بشپړتيا په غرض ترلاسه کړې ده، دا يې متن دی:

## » پالوال صاحب وفات سو!

## انا لله و انا اليه راجعون.

توکمپوه، ژبپوه، مؤرخ، ليکوال او څېړونکي ارواښاد ډاکتر عبدالرازق پالوال د حاجي عبدالخالق زوی د عبدالسلام لمسی او د ميراحمد کړوسی دئ، د ۱۳۱۷ل. کال د حوت پر ۲۱مه نېټه د کندهار ښار د کاکړو په کوڅه کې زېږېدلی او د باميزو په کوڅه کې لوی سوی دئ؛ په خټه پښتون خروټی دئ.

ډاکتر پالوال صاحب د لبسي زد کړې په ۱۳۳۷ل. کال په حاجي ميرويس نيکه لېسه کې بشپړې کړې او په ۱۳۴۱ل. کال د کابل پوهنتون د ادبياتو او انساني علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ.

په ۱۹۶۵م.کال ئې په اينديانا پوهنتون کې د بشر پوهني په څانګه کې زدکړې کړې؛ په ۱۹۷۱م. کال ئې د امريکا لويزيانا په دولتي پوهنتون کې په بشر پوهنه کې ماستري تر لاسه کړې او ۱۹۷۷م.کال ئې د بشرپوهنې د مطالعاتو په څانګه کې د امريکا د پنسلوانيا په دولتي پوهنتون کې دوکتوره (PH .D) لاسته راوړې ده.

وروسته هيواد ته راستون او ۱۳۵۶ل. کال څخه تر ۱۳۵۹ل. کال پوري په کابل پوهنتون کې د ادبياتو په پوهنځي کې د فلسفې او اجتماعي علومو په څانګه کې د پوهنوال په علمی رتبه کې استاد وو.

له ۱۹۸۰ ــتر ۱۹۹۷م. کال پوري د جرمني په هايډلبرګ په پوهنتون د تدريس چاري او د مونشن په موزيم کې ئې کار کاوه.

له ۱۹۹۷څخه بیا تر ۲۰۰۲ م. کال د سهیلي پښتونخوا د پښین او سورخاب په سیمو کې ئې د مهاجرت ژوند کاوه ؛ په ۲۰۰۲ م. کال کندهار ته راغی او د کندهار ښار د ځلرمي ناحیې د بامیزو په کوڅه کې په خپل پلارني کور کې میشت سو.

ډاکتر پالوال صاحب د ژبو د ثبت په برخه کې په زردیو، وردوج، زېباک، ایسکتول، سنګلیچ او مونجان کې د سنګلیچي او مونجي ژبو ثبت کړی دئ.

په ۱۳۴۳ل. کال ئې د کندهار ښار پښتو، هندویې، په فراه کې پښتو، د روزګان په میلکوه کې، په کنګ، په چخانسور، په ګاوني دورزي او په چاربورجک کې ئې بلوڅي ژبې ثبت کړي دي؛ همدغسې په رودباد، د هلمند په بلالکه کې ئې پښتو، په سپارک کې، په خلیج ، او بوست کی ئې هم پښتو ژبه ثبت کړې ده.

ډاکتر پالوال صاحب په پښتو، دري، اردو، عربي، انګلیسي، ساسنکریټ او جرمني ژبو پوهیدئ او په دې ژبو ئې ژباړې هم کړې دي؛ په انګلیسي ژبه کې ناچاپ اثار هم لري.

منظومې او منثورې لیکنې ئې دلېسې له اووم ټولګې څخه راپیل کړې او د ژوند تر وروستیو پورې ئې دوام ورکړ؛ چې له مستقلو اثارو سره ئې په ډېرو رسنیو کې لکه، وړمه، کابل، کندهار مجلو طلوع افغان انیس ، هیواد او نورو اخبارو کې په متفرقه ډول خپرې سوې دي.

د لیکنو په برخه کې مرحوم ډاکتر پالوال ګڼ شمېر اثار لیکلي، چې د چاپ سوو اثارو څخه ئې: د پښتو نوی مصدر اثر، د پښتو نوی پخواني تاریخ دوهم ټوک، معیاري پښتو، موږ محوه کیږو، وګړي دوړخیان دي اوسړیان هم لا د یادوني وړ دي؛ ناچاپ اثارو شمېر ئې تر ۲۶ عنوانو اوړي، چې د ځینو اثارو نومونه ئې دادي: د پښتو نوی پخوانی تاریخ دریم او ځلرم ټوک،د پټې خزانې تاریخي اصالت، په اسلام کې د ښځو ازادي که ځان پوښ او کوربندي، د قران شریف ترجمه په کندهاری پښتو سره، د تورات ترجمه او شننه، د بودایت اصل او بنیاد، د ښوراوک بریښان، د واده داستان په غاړو کښې، پالوال په باغ ارم کښې له شاپېریانو سره، د کابل د دارالتادیب مطالعه په انګلیسي ژبه، د پنځه شپږ کلن پالوال تېښته، ګوډ تېمور، ابراهیم (ع) په دین او تاریخ کښې او نور.

مرحوم ډاکتر پالوال صاحب ټول ژوند له کتاب مطالعې او تحقق سره وو، چې د ژوند په وروستیو کې ئې حال د ډېر زړسوي وو او په خورا بېوسی او بېکسۍ کې ئې ژوند کاوه.

چې بلاخره د عمر په ۸۳کلنی کې د لیندۍ میاشتي پر ۱۵مه نېټه د دوشنبې په شپه وفات سو.
روح دې ښاد، جنت دې ځای وي.

جنازه ئې د دوشنبې په ورځ ماپښین ۳بجې د کندهار د مشاهیرو په هدیره کې د اروانښاد پوهاند باوري صاحب تر څنګ خاورو ته و سپارل سوه.

مرحوم دوه اولادونه لري، چې یو ئې زوی او بله ئې لور ده، چې له هیواده لیرې په جرمني کې اوسي.»

د پالوال صاحب د ژوند وروستي کلونه یو څه په کړاو سره تېر شول. ده له امریکا غږ سره یوه مرکه کړې وه چې ځینې برخې یې د ویډیو له مخې دلته لیکم:

«... په زیپوهنه او توکمپوهنه کې یې له امریکا څخه خپله ماستري او ډوکتورا ترلاسه کړې ده، د خپل عمر ډېره برخه یې په تدریس او څېړنه باندې تېره کړې ده، په پښتو، دري، انګلیسي، عربي او جرمني ژبو باندې ګڼ لیکل شوې آثار ورنه پاتې دي چې شمېر یې تر پنځوسو هم اوړي، اوه اثره یې چاپ شوي دي او نور یې ناچاپ دي.

د افغانستان د فرهنگ دا ځلانده ستورى د خپل ژوند وروستۍ شپې ورځې په يوه تياره او نمجنه کوټه کې په يوازيتوب سره په ډېر بد حالت تېرې کړي. د ده ګيله د ټولو افغانانو په پټه دا ده چې ده د خپل ژوند ډېره برخه هېواد او خلکو ته په چوپړ کې تېره کړېده، خو اوس...

د ژوند په ورستيو کې يې دوې هيلې درلودې:

ډ ژوند کولو لږ ښه شرايط او د نا چاپ اثارو چاپېدل.»

په ځينو بريښنايي رسنيو کې ګنشمېر افغان فرهنګيانو د استاد پالوال پر مړينه د خواشينۍ مراتب څرګند کړي دي چې ځينې بېلګې يې دلته را اخلم:

د استاد معصوم هوتک تر تليفوني خبر وروسته مې په تاند کې د پالوال صاحب د مړينې خبر ترسترګو شو، دا يې متن دى:

«تکړه ليکوال او څېړونکى عبدالرزاق پالوال وفات شو

تاند- ليکوال، څېړونکى، ژبپوه او د کابل پوهنتون پخوانى استاد ډاکټر عبدالرزاق پالوال وفات شو.

استاد پالوال له يوې اوږدې مودې راهيسې ناروغ و. ډاکټر پالوال په خپل برکتي ژوند کې ډېر اثار پنځولي چې ځينې يې دا دي:

١ -د پښتنو نوى او پخوانى تاريخ (لومړى ټوک، په انګليسي ژبه او د ويم ټوک په پښتو ژبه).

٢ -د پښتو نوى مصدر، د ١٣٨۴ لمريز کال چاپ.

٣ -د شاه مقصود زيارت او د هغه تاريخي ارزښت.

۴ -د کالام تاريخ (له انګليسي څخه ژباړه).

۵ -معياري پښتو.

۶ -موږ محوه کيږو.

٧ -وګړي دوزخيان دي، سړيان لا هم.

ډاکټر پالوال د ګڼو اثارو د پنځولو ترڅنګ په پوهنتون کې ډېر محصلان هم روزلي دي.»

افغان جرمن پورتال د تسليت يو پيام خپور کړ، متن يې په لاندې ډول دى:«

بسم الله الرحمن الرحيم

## د خواشينۍ او تسليت پيام

په خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پخوانى استاد، توکمپوه، ژبپوه، د تاريخ محقق او د افغانستان د ژبو د اطلس پروژې دانشمند غړى عبدالرزاق پالوال په کندهار کې تر اوږدې ناروغۍ وروسته وفات شوى دى.

**انالله و اناالیه راجعون**

استاد دوکتور پالوال د بېشمېره محصلینو د روزلو تر څنګ، په ګڼو برخو کي د پاملرني وړ علمي اثار او مقالي هم لیکلي دي چي د افغانستان، سیمي او نړۍ په علمي فرهنګي کړیو کي د ځانګړي علمي درېځ او ارزښت لرونکي دي.

موږ د استاد دوکتور پالوال مړینه یوه لویه او نه جبیره کېدونکې ضایعه ګڼو او په دې لوی ویر کي د خدايبښلي له کورنۍ، شاګردانو او لارویانو سره ځان شریک ګڼو، دوکتور پالوال ته جنتونه او کورنۍ ته يې د لوی زغم هیله کوو.

افغان جرمن پورتال کاري ټیم»

په افغان جرمن پورتال کي د تسلسیت پیام نه وروسته، د پالوال د مړیني له پاره د استاد هوتک

دا مرثیه راغلې وه:

# د داکتر عبدالرازق پالوال په ویر کي

له کندهار څخه زنګ راغی د سپېدو پر مهال
زړه په لړزه سو چي ایلچي د بد خبر راوړي حال

حدس مي سهي سو خبر وو د دانشمند د مړیني
د داسي پوه چي مونده نه سي په همعصرو کې سیال

هم توکمپوه هم وو ژبپوه هم محقق د تاریخ
هم مربي و هم استاد هم په رشتیا هیوادپال

افسوس خوړلي ئې هر وخت وې د زمان څپېړي
حسادتونو ئې جوړ کړی وو و مخ ته دېوال

راته نړېبړي مو و سترګو ته د پوهي څلي
راته تشېبړي د ادب و د فرهنګ چاپېریال

په پردېسي کي ګلومه د وطن غمونه
څوک نه لرم چي غمشریک مي سي پر مرګ د پالوال

رانازوه ئې لویه خدایه د غفران په تحفو
په جنتو کي ئې کړه ځای ورته تیار و سامبال

ورځ دوشنبې میاشت ده د قوس چي تویوم دا اوښکي
حساب د لمر راته ښیي زر څلور سوه دئ کال

اټاوا, کانادا
6دسمبر 2021

په بي بي سي پښتو ويبپاڼي باید د ډاکتر پالوال د فرهنګي شخصیت په باب مفصل رپوټ خپور کړی وای، خو دوی په یوه لنډ راپور بسنه وکړه، دا یې متن دی:

**«افغان مورخ او څېړونکی عبدالرزاق پالوال د ۸۳ کالو په عمر وفات شو**

مشهور افغان مورخ، ژبپوه او ټولنپوه ډاکټرعبدالرزاق پالوال د ۸۳ کالو په عمر په کندهار کې وفات شو.

عبدالرزاق پالوال د افغانستان له معاصرو ژبپوهانو یو و.

نوموړی نن په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو.

ښاغلي پالوال په هېواد کې دننه او بهر د لوړو زده‌کړو له ترلاسه کولو وروسته په کابل پوهنتون کې د استاد په توګه دنده درلوده او تر کلونو - کلونو یې ګڼ شمېر شاګردان روزلي دي.

ښاغلي پالوال د تاریخ، ټولنپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې ګڼ شمېر اثار لیکلي، چې یو شمېر یې چاپ شوي هم دي.

د نوموړي تاریخي کتاب، "پښتنو نوی او پخوانی تاریخ" 'لومړی ټوک، په انګلیسي ژبه او د ویم ټوک په پښتو ژبه ' ډېر علمي بحثونه راوپارول.

ډاکټر پالوال د انګرېزي، جرمني او عربي په ګډون په څو بهرنیو ژبو هم پوهېده.

ښاغلی پالوال په ۱۹۸۰ مو کلونو کې جرمني ته کډوال شوی و او نژدې درې لسیزې مخکې بېرته هېواد ته ستون شو او د ژوند تر پایه د لیک او لوست په چارو بوخت و.

د خواله رسنیو ډېرو افغان کاروونکو او ګڼ شمېر افغان فرهنګي او او علمي څېرو د استاد پالوال پر مړینه خواشیني څرګنده کړې او د هغه مړینه یې د علم او ادب لپاره یوه ستره ضایع بللې ده.»

د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست:

«د دوکتور عبدالرازق پالوال جنازه خاورو ته وسپارل سوه.

د دوکتور عبدالرازق پالوال جنازه د کندهار د نومیالیو په هدیره کي خاورو ته وسپارل سوه، د نوموړي د جنازې په مراسمو کي سلګونو کسانو ګډون کړی وو، د کندهار د اطلاعات او فرهنګ ریاست معاون ملا شمس الله صمیم، د پوهنتون علمي مرستیال، د پوهنتون استادان، فرهنګیان، ادیبان، لیکوالان، شاعران او لسګونه ځوانان نور هغه کسان وه، چي د ارواښاد دوکتور پالوال د جنازې په مراسمو کي ئې برخه اخیستي وه.

د اطلاعات او فرهنګ ریاست معاون ملا شمس الله صمیم د مرحوم پالوال د خدمتونو او تسلیت په اړه د اطلاعات اوفرهنګ وزارت له خوا رالیږل سوی پیغام ولوست، د وزارت د ډاډګیرني په پیغام کي د دوکتور پالوال مړینه د افغانستان د ادبیاتو او فرهنګ له پاره لویه ضایع بلل سوې ده. ښاغلي صمیم د باختر اژانس سره د خبرو پر مهال وویل، چي ځوانان دي د ارواښاد عبدالرازق پالوال له کتابونو ګټه واخلي، هڅه به وکړو، چي د ناچاپ اثارو د چاپ له پاره ئې هم زمینه برابره سي.

دوکتور عبدالرازق پالوال د 84 کالو په عمر وفات سو، د پښتو ژبي او توکمپوهني دغه لوی عالم په میراث باندي یوازي خپل کتابونه پرېښول، هغه کتابونه، چي د افغان ولس د نن او سبا له پاره ستر درسونه لري. دوکتور عبدالرازق پالوال د بشر پوهني ( انټرولوجۍ) په برخه کي ماستري کړې وه، د دوکتورا سند ئې د امریکا د پنسلوانیا له پوهنتون څخه تر لاسه کړی وو.

ارواښاد پالوال په پښتو، دري، انګلیسي، عربي، جرمني او سانسکریټ ژبو پوهېدی، په دې ژبو باندي ئې ژباړې هم کړي دي او په انګلیسي ژبه ناچاپ اثار لري.

دوکتور پالوال ګڼي رسالې او مقالې لیکلي، د چاپ او ناچاپ اثارو شمېر ئې تر 50 پورې رسیږي، مشهور اثار ئې وګړي دوړخیان دي، سړیان هم لا، پښتو نوی مصدر، معیاري پښتو او موږ محوه کیږو.»

د پالوال صاحب د مړینې په مناسبت امریکا غږ دا لنډکی رپوټ خپور کړ:

**«افغان ژبپوه او د کابل پوهنتون پخوانی استاد عبدالرازق پالوال مړ شو:**

افغان ژبپوه، لیکوال او د کابل پوهنتون پخوانی استاد عبدالرازق پالوال نن دوشنبه ډسمبر شپږمه (لېندۍ ۱۵) د ۸۳ کلونو په عمر وفات شو.

ډاکتر عبدالرازق پالوال په ۱۳۱۷ لمریز کال کې د کندهار ښار د کاکړو په کوڅه کې زیږېدلی او په ۱۳۳۷ لمریز کال کې د کندهار ولایت له حاجي میرویس خان نیکه له لیسې څخه فارغ شی دی.

نوموړی په ۱۳۴۱ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او انساني علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ.

د کندهار پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي استاد پوهنیار سید احمد قانع امریکا غږ ته وویل چې اروابناد پالوال د امریکا لویزیانا دولتي پوهنتون کې په بشر پوهنه کې ماسټري هم تر سره کړې وه.

هغه وویل: "په ۱۹۶۵م.کال ئې په اینډیانا پوهنتون کې د بشر پوهني په څانګه کي زدکړی کړي؛ په ۱۹۷۱م. کال ئې د امریکا لویزیانا په دولتي پوهنتون کې په بشر پوهنه کې ماسټري تر لاسه کړې او ۱۹۷۷م.کال ئې د بشرپوهني د مطالعاتو په څانګه کې د امریکا د پنسلوانیا په دولتي پوهنتون کې دوکتوره (PH .D) لاسته راوړې ده".

د ښاغلي قانع د معلوماتو په اساس ډاکتر پالوال وروسته هیواد ته راستون او د ۱۳۵۶ لمریز کال څخه بیا تر ۱۳۵۹لمریز کال پورې په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو په پوهنځي کې د فلسفې او اجتماعي علومو په څانګه کې د پوهنوال په علمي رتبه کې استاد وو.

هغه زیاته کړه چې ډاکتر پالوال د دې ترڅنګ له ۱۹۸۰ –تر ۱۹۹۷میلادي کال پورې د جرمني په هایدلبرګ پوهنتون د تدریس چارې او د مونشن په موزیم کې ئې کار کاوه.

نوموړي له ۱۹۹۷څخه بیا تر ۲۰۰۲ میلادي کال پورې د سهیلي پښتونخوا د پښین او سورخاب په سیمو کې د مهاجرت ژوند کاوه او په ۲۰۰۲ میلادي کال کې کندهار ته ستون شو او تر مړینې یې هلته ژوند کاوه.

د کندهار پوهنتون استاد پوهنیار سید احمد قانع امریکا غږ ته وویل چې ډاکتر پالوال د ژبو د ثبت په برخه کې په زردیو، وردوج، زیباک، ایسکتول، سنګلیچ او مونجان کې د سنګلیچي او مونجي ژبو ثبت کړی دئ.

په ۱۳۴۳ل کال ئې د کندهار ښار پښتو، هندویي، په فراه کې پښتو، د روزګان په میلکوه کې، په کنګ، په چخانسور، په ګاوني دورزي او په چاربورجک کې ئې بلوڅي ژبې ثبت کړې دي؛ همدغسې په رودباد، د هلمند په بلالکه کې ئې پښتو، په سپارک کې، په خلیج ، او بوست کی ئې هم پښتو ژبه ثبت کړې ده.

ډاکتر پالوال په پښتو، دري، اردو، عربي، انګلیسي، ساسنکریټ او جرمني ژبو پوهیدئ او په دې ژبو ئې ژباړې هم کړې دي؛ په انګلیسي ژبه کې ناچاپ اثار هم لري.

ډاکتر پالوال ګڼ شمېر اثار لیکلي چې د چاپ سوو اثارو څخه ئې د پښتو نوی مصدر ،د پښتو نوی پخوانی تاریخ دوهم ټوک، معیاري پښتو، موږ محوه کیږو، وګړي دوړخیان دي او سړیان هم لا د یادوني وړ دي.

د نوموړي د ناچاپ اثارو شمېر تر ۲۶ عنوانو اوړي چې د ځينو اثارو نومونه د پښتو نوی پخوانی تاريخ دريم او څلورم ټوک،د پټې خزانې تاريخي اصالت، په اسلام کې د ښځو ازادي که ځان پوښ او کوربندي، د قران شريف ترجمه په کندهاری پښتو سره، د تورات ترجمه او شننه، د بودايت اصل او بنياد، د ښوراوک بريښان، د واده داستان په غاړو کېښې، پالوال په باغارم کښې له شاپيريانو سره، د کابل د دارالتاديب مطالعه په انګليسي ژبه، د پنځه شپږ کلن پالوال تېښته، ګوډ تېمور، ابراهيم (ع) په دين او تاريخ کښي او نور.»

د دې رپوټونو تر څنګ د ښاغلي محمد ابراهيم سپېڅلي يو رپوټ هم په دوچولي پښتو کي په مخه راغی چې تر نورو ډېر ښه او خورا په درناوي سره يې د پالوال صاحب د علمي فرهنګي شخصيت حق ور ادا کړی دی. دا هم د ابراهيم سپېڅلي د رپوټ بشپړ متن:

**«د ژوند په تيارو کې، يو له پامه لوېدلی ژبپوه او بشرپوه:**

د کندهار ښار په کلا فصيل سيمه کي د پاتاو پر غاړه د يو زاړه کور زړه د لرګي دروازه معلومېږي. د دغه کور په يوه نمناکه خونه کي د ژبپوهني او بشرپوهني يوه لويه هستي ډاکټر عبدالرازق پالوال ژوند کوي.

د کوچنيانو نارې او چيغي د دغه زاړه کور په هغه نمناکه خونه کي سمي اوريدل کيږي، چې يوه لويه هستي پکښي د ژوند وروستی ورځي او شپې سبا کوي. د هيواد او سيمي په سطحه د ژبپوهني او بشرپوهني درونړ استاد دلته پر زاړه چپرکټ پروت دی.

دغه ستره اکاډميکه څېره، استاد ډاکټرعبدالرازق پالوال نوميږي.

د پښتو ژبي پيژندل سوی محقق محمد معصوم هوتک وايي، د پالوال صاحب د ځوانی په وختونو کي چي به په کابل پوهنتون کي د علمي سيمينارونو اوخيړنيزو غونډو پرمهال د يو خارجي يا کورني څيړنکو لخوا کومه پوښتنه مطرح سوه، نو د جواب له پار به يې يوازي څو لاسونه پورته سول، چي په هغو کي به يو لاس د (پالوال) هم و.

پالوال پر مورنی ژبي سربيره په دري، انګليسي، جرمني او عربي ژبو پوهيږي.

اوس په دغه زړه او چپه لاس ته جوړه سوې خونه کې، چي هيڅ بخاری نه سته ډاکټر عبدالرازق پالوال يوازي راډيو اوري، يا هم کله ناکله په ربړېدېدلو لاسونو يوه ليکنه کوي، خو د عمر د ډېروالي له امله خبرو او ليکنو ته تر ډېره تسلسل په هغه ډول نه سي ورکولای، چي ورته په کار دی.

ډاکټرعبدالرازق پالوال د حاجي عبدالخالق زوی په کال ۱۳۱۷ لمريز کال کي د کندهار ښار په کاکړو کوڅه کي زيږېدلی او ډېر وخت يې په باميزو کوڅه کي تېرکړی دی.

په اته کلنی کي د حاجي ميرويس خان نيکه لېسي ته شامل سوی دی.

پالوال په ۱۳۳۷لمريز کال په اوله نومره له يادي ليسي څخه فارغ او يو کال وروسته د کانکور امتحان له لاري ۱۳۳۸ لمريز کال کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي ته شامل سو، چي له ياد پوهنځي هم په لومړی درجه ۱۳۴۲م کال فارغ او همدلته د بشرپوهني استاد وټاکل سو.

ډاکټرپالوال د کابل پوهنتون له خوا امريکا ته د لوړو زده کړو له پاره وليږل سو، چې په بشرپوهنه کي يې د امريکا متحده ايالاتو له ارزونا پوهنتون څخه د دوکتورا په سطحه تر لوړو زده کړو وروسته خپل هيواد ته راستون او د محصلانو روزني ته يې په کابل پوهنتون کي ملا وتړله.

ډاکټر عبدالرازق پالوال د محصلانو د تدریس ترڅنګ د کابل او سویس پوهنتونونو د یو قرارداد له مخي د سویس هیواد له خوا د افغانستان د ژبو د یو اطلس جوړولو له پاره په بدخشان او د هیواد په یوشمیر نورو ولایتونو کي د اول وار له پاره یوشمیر ژبي لکه ( بلوڅي، پشه یي، شوغني،سنیچي، مونجي او پراچي) ثبت کړلي.

ډاکټرپالوال د ۱۳۵۸کال په نیمایي کي له افغانستان څخه ووت او د جرمني هیواد ( ایډلبورک) کي یي تر پنځلس کاله زیات وخت تیر کړ.

نوموړی استاد وروسته د پاکستان د بلوچستان د کډوالو په کمپ (سرخاب) کي د خپلي مهاجري کورنۍ سرپرستي پر غاړه واخیسته او په افغانستان کي د مخکني ولسمشر حامد کرزي په مشرۍ د نوي اداري تر فعالیدو وروسته کندهار ته راغلی او دلته یې د خپل هیواد په غېږ کي لیکوالۍ ته یو وار بیا لستوڼي راپورته کړل.

د دوی اکثره مقالې پر طلوع افغان ورځپاڼي او کندهار مجلې سربیره په کابل او د هیواد څخه دباندي په انګلیسي او جرموني ژبو هم خپرې سوي دي.

چاپ سوي اثار:

۱ :د پښتنو نوی او پخوانی تاریخ ( لومړی ټوک په انګلیسي ژبه او د وهم ټوک په پښتو)

۲ :پښتو نوی مصدر

۳ :د شاه مقصود زیارت او د هغه تاریخي ارزښت

۴ :د کالام تاریخ له انګلیسي څخه ترجمه

۵ :معیاري پښتو

۶ :موږ محوه کیږو

۷ :وګړي دوزخیان دي سړیان لا هم

ډاکټرپالوال د چاپ اثارو ترڅنګ زیات شعرونه او نژدې ۳۵ ټوکه ناچاپ اثار لري، چي په دې کي د قرانکریم ترجمه، د انجیل او تورات پر ترجمو سربیره د دغو کتابوبونو پر ځینو برخو وضاحتونه هم لیکلي دي.

لوی ارمان:

ډاکټرپالوال وايي، ستر ارمان یي دا دی، چي ناچاپ اثار يي چاپ او تر لوستونکو پوري ورسیږي، ترڅو د ټولني هغه حق، چي پر ده یې لري هغه یې څه نا څه اداء کړي وي.

اوسمهال ډاکټرپالوال د عمر د ډېروالي له امله په خپله له ولاړیدو او ګرځیدو لویدلی او په یوه زړه نمناکه خونه کي د ژوند ترخې شپې تیروي.

دغه درونـد استاد یو زوی او یوه لور لري، خو هغوی په جرمني کي ژوند کوي او د استاد په قول، چي څوک یې په کیسه کي نه دي.

محمد ابراهیم سپېڅلی»

دغه راز په خواله رسنیو کې هم د ډاکتر پالوال د فرهنګي ژوند او مړيني په باب ځینو فرهنګیانو مطالب خپاره کړي دي چې دلته به یې څو بېلګې را واخلم:

د هندوستان په نهرو پو هنتون کې د پښتو څانګې استاد انور خيري د ياد پوهنتون د پښتو څانګې په استازولۍ دا پیام خپور کړی دی:

«د کابل پوهنتون پخوانی استاد دکتور محمدرازق پالوال د مړيني له امله د نهرو پوهنتون د پښتوڅانګې دغمرازۍ پیغام!

استاد پالوال دیوه مسلکي ژبپوه او تکړه لیکوال په توګه د کابل پوهنتون باصلاحیته استادانو څخه ګڼل کیده ،چې دژبې او ژبپوهني په برخه په تیره تاریخي برخه کې یې ځانګړی کار کړی اودیري علمي مقالې اوپه ژبپوهني او ګرامر پورې اړوند کتابونه یې لیکلي دي.

استاد پالوال یوازنی مسلکي ژبپوهاند ګڼل کیده چې خپله مطالعه یې له ژبې ، ژبپوهني اوتوکم پوهني چې په علمي نړۍ کې مهمه موضوع وه پر بله خوانه کړه او دژوند ترپایه پردغه علمي نظر ولاړپاتې شو که څه هم چې انتروپالوجي او اتنولوجي سره یې هم اړیکه جاری ساتله.

آریایي ژبو په معرفی او په اطلس کې یې ثبتول دده دنورو مهم کارنو څخه شمیرل کیږي.

دی د افغانستان د ژبپوهانو په هغه شمیر کسان کې راځي چې ژبپوهنه یې په عصري، مسلکي او نړیوالو میتودونو او اصلو سره برابر مطرح کړل.

د لیکنو ځانګیرنه یې دا ګڼلای سو چې لیکنې یې عمیقي او منظمې دي اولستونکي په آساني پرې دی پوهیدلای شي.

مرحوم استاد ډیر لیوال و چې دهندي او پښتو ژبو یوه پرتلزه څیرنه باید ترسره شي.او ده به تل دغه ټکي ته اشاره کوله.

په دې هیله چې لیکنې او آثار یې خپاره او ضایع نه شي.

جنتونه یې ځای

پښتو ځانګه

نهرو پوهنتون

دانشمند دوست رحمت اریا د پالول صاحب پر مړيني باندې داسې خواشيني څرګنده کړه:

«د یوۀ ویر او غم لا خلاص نـۀ وو چې بل لوی غر هم ونړېد. زموږ د افغان ټولني ستره فرهنګي څیره استاد نګارګر څو مخکې وفات سو دا دی اوس د یوۀ بل غرۀ د نړیدلو شاهد یو. ډاکټر عبدالرزاق پالوال، استاد پالوال د افغانستان نامتو مؤرخ، ژب پوه، ټولنپوه او ستره ادبي څیره نن د دسمبر شپږمه ۲۰۲۱ز کال د ۸۳ کالو په عمر کندهار کې وفات سو او خاورو ته وسپارل سو.

ښاغلي پالوال په هېواد کې دننه او بهر د لوړو زدکړو له ترلاسه کولو وروسته په کابل پوهنتون کې د استاد په توګه دنده درلوده او تر کلونو - کلونو یې ګڼ شمېر شاګردان روزلي دي.

ښاغلي پالوال د تاریخ، ټولنپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې ګڼ شمېر اثار لیکلي، چې یو شمېر یې چاپ شوي هم دي.

د نوموړي تاريخي کتاب، "پښتنو نوی او پخوانی تاريخ" 'لومړی ټوک، په انګليسي ژبه او د ويم ټوک په پښتو ژبه ' ډېر علمي بحثونه راوپارول.

ډاکټر پالوال د انګليسي، جرمني او عربي په ګډون په څو بهرنيو ژبو هم پوهېدۀ.

ښاغلی پالوال په ۱۹۸۰ مو کلونو کې جرمني ته کډوال سوی وو او نـېـږدې درې لسيزې مخکې ېرته هېواد ته راستون سو او د ژوندانـۀ تر پايه د ليک او لوست په چارو بوخت وو.

استاد پالوال د افغانستان يوه هستي وه. جنتونه دې ځای وي. د استاد محترمې کورنۍ، ددۀ شاګردانو او نورو مينه والو او د افغانستان د ادبي او علمي کهول ويرجنو ته صبر غواړم او تسليت ورته وړاندې کوم. الله تعالی دې ښه ورسره وکړي. آمين.»

د پياوړي محقق ډاکټر لطيف ياد د خواشينی پيام دا دی:

«په ډيرې خواشينی سره مو خبر ترلاسه کړ چې دکابل پوهنتون پخواني استاد ، څېړونکي ،ليکوال ،ژبپوه او تاريخپوه ډاکټر عبدالرزاق پالوال له دې فاني نړی نه سترګې پټې کړې.

نو موړي دزياتو علمي آثارو خاوند و چې دځينو نومونه يې دادي:

۱ -د پښتنو نوی او پخوانی تاريخ (لومړی ټوک، په انګليسي ژبه او د ويم ټوک په پښتو ژبه).
۲ -د پښتو نوی مصدر، د ۱۳۸۴ لمريز کال چاپ.
۳ -د شاه مقصود زيارت او د هغه تاريخي ارزښت.
۴ -د کالام تاريخ (له انګليسي څخه ژباړه).
۵ -معياري پښتو.
۶ -موږ محوه کيږو.
۷ -وګړي دوزخيان دي، سړيان لا هم.

اروابناډپالوال د خپلې استادی په وخت کې ډيرشاګردان وروزل . دده مړينه يوه ستره علمي ضايعه ده . لوی خدای دې وبخښي.»

سردار ولي بيا په لږ څه تفصيل سره د پالوال صاحب حق ور ادا کړی دی. دا يې د ليکني بشپړ متن دی:

«ډاکټر عبدالرازق پالوال هم د ژونديو له کتاره ووت.

په کلونو روزل سوي ستر مغزونه
په يوه شېبه کې خاوري سې ايـرې

د کابل پوهنتون پخوانی استاد توکمپوه، ژبپوه، مؤرخ او څېړونکي پالوال ۸۳ کاله د مخه په کندهار کې وربېږېد، له کابل پوهنتون، جرمني او امريکا څخه يې په انترو پالوجی [وګړ/انسان پوهنه ( دې پوهنه کې د پخوانيو تاريخي مهالونو څخه تر اوسه د جغرافيايي وېشنو، تاريخ او کلتوري اړيکو له مخه انسانيت ته کتل کيږي)] کې ډاکټري لرله او د کابل پوهنتون د همدې د همدې څانګې ښوونکی وو.

د ژبپوهني دغه کدر د زيار صاحب او بايزيد اڅک سره هغه پروژه کې برخه اخيستې وه چې د يونسکو له خوا د افغاني ژبو اطلس جوړولو په نيت جوړ سوی وو، د سويس هيواد له خوا د افغانستان د ژبو د يو اطلس جوړولو لپاره يې يو شمېر ژبې لکه بلوڅي، پشه يي، شوغني ،سنيچي، مونجي او پراچي ثبت کړې .

وروسته ئې د [پښتو مصدر] او [معیاري پښتو] دوه نوښتګر اثره او هم پر ژبه په لسهاوو درنې څېړنیزې مقالې ولیکلې، چې د ژبې د کره کولو په برخه کې یوه نوې هڅه ده چې په ډېرو برخو کې ئې سپارښتنې د پاملرنې وړ دي.

د ثور فاجعې وروسته جرمني بیا وروسته پېښین [سرخاب] ته کډه او ۱۹۹۷ع کال بېرته وطن [کندهار] ته ستون سو.

د سرخاب د کډوالو د کمپ د ځینو مشرانو له خولې چې هغه به هره ورځ سهار د شپېشتو پلورولو د پاره د ځایي ډاټسن موټر په باډۍ کې د پېښین بازار ته تله او په دې ئې ځان ژوندی ساتلی وو.

استاد پالوال یو زوی او یوه لور لرله چې په جرمني کې ژوند کوي او د استاد په قول، څوک یې په کیسه کې نه وه، هغه تر مرګه یوازې وه اوسېد او له دې بدمرغه نړۍ په داسې حال کې ولاړ چې په نږدې راتلونکې کې ناممکنه ده چې څوک ئې ځای ډک کړي.

خدای دې وبخښي، روح ئې ښاد

د ډاکټر پالوال لاندې کتابونه چاپ وه:

۱ -د پښتنو نوی او پخوانی تاریخ (لومړی ټوک، په انګلیسي ژبه او دوهم ټوک په پښتو ژبه).
۲ -د پښتو نوی مصدر، د ۱۳۸۴ ل ل کال چاپ.
۳ -د شاه مقصود زیارت او د هغه تاریخي ارزښت.
۴ -د کالام تاریخ (له انګلیسي څخه ژباړه).
۵ -معیاري پښتو.
۶ -موږ محوه کیږو.
۷ -وګړي دوزخیان دي...»

د خدایبښلي عبدالرزاق پالوال دژوند، زدکړو، وظایفو، تخلیقاتو، ژباړو، لیکنو او مړینې په باب چې زه پوهېدم او څه چې په میډیا کې راڅرګند شول، ما په امانتدارۍ سره ولیکل او د دې حاضرې مقالې په چوکاټ کې مې راټول او خوندي کړل او خپلې څرګندونې مې هم ورسره مل کړې.

او په پای کې یې د منظوم کلام یوه بېلګه:

## خوله

راغلی وچې شونډې یم چابک په سوي سا
تر پښو مې جهان وکیښ خو یوه نه سوم په ستړیا

د تندې سره لمبه وه چې وجود یې ننه وسو
د مینې غلبه وه چې یې راوستم تر تا

سراب تر کوم حجاب لاندې چولونه بهبوله
چې مځکه او آسمان راته ترسترګو وه دریا

اهاړ د لمر له لاسه، له معکوسه انعکاسه
جوړ کړی اهتزاز په لایو کې د هوا

آسمان مې پر اوږه راسره وژړل دعوت سوم

اوریـــځـې سـوې چـاپـېـره سترګګان وهل برېښنا

ور ګـډ سـوم ژر تـر ژره سـمـنـدر تـه بې ګودره
یـــو بـــحـــر غـــورېــــدلی و پـــرمـــخ بې انـــتـــها

امـواج یې د احـتـیـاج راتـه پـه وار پورتـه کېدله
کـښـتـی مـې پـاکـــه مـیـنـه لـوړېـده ورسره لا

سـاقي د کـوم بـهـشـت راتـه ویـل تـر فهم لو کړه
راځـــه چـــې نـن خـبـر یې درتـــه سـوې میلمستیا

د سـرو مـیـو، شـیـدو سـپـیـنـو او رونو اوبو عسلو
خـمـانې، ولې، چـیـنـې، لـوښي مي پرېښودل ترشا

پـه کټ ـ کټ چي صـراحي زمـا قصه ورته کوله
پـه سره خـولـــه بـې پـــروا رابـــانـــدې ومسل مینا

د خـضـر لـــه توښي مي په امید پیني راخطا کړې
راتـېـر سـوم د حـیـوان تـــر اوبــو تـړی په ځغستا

راغـلـی وچـې شـونـــډې یـــم پـالـوال په سوې سا
کـــه دوني ځـــواني وکړې چي خوله راکي په خندا

(بېنوا عبدالرؤف، اوسني لیکوال (بشپړ متن)، ترتیب او زیاتوني: مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه ـ کندهار، ۱۳۸۸ ش ـ ۲۰۰۹ کال، ۱۹۱ ام مخ)

**روح یې ښاد،**

**جنت الفردوس یې ځای.**

**ډاکتر عبدالرزاق پالوال دې خدای وبښي،**

**له درني کورنی، شاګردان او د افغانستان**

**د فرهنګ له کورنۍ سره په دې لوی ویر کې**

**ځان شریک ګنم او ټولو ته د جمیل صبر غوښتنه کوم.**




www.dawatmedia24.com